واحد فقیري ۲۰۱۲/۰۷/۰۳

# د طالبانو پر خلاف ملي قیام

قریب څه باندي یوه میاشت کېږي چي په اندړو کي د طالبانو د ظلم او ناروا پر خلاف محلي خلکو او د مکتب او پوهنتون محصلینو د «ملي قیام» تر نامه لاندي عمومي ولسي پاڅون پیل کړی دی. څو کلیو په ګډه، طالبان له خپلو سیمو څخه اخراج کړي، او محلي سیاسي قدرت یې ولسي جرګو او شوراګانو ته سپارلی دی. که څه هم د اندړو د ملي پاڅون راتلونکي معلومه نده، خو سمدستي قریب ۵۰۰ مسلح جنګلیالي لري، او په دننه او بهر کي یې افغانان او نور ازاد بنیادمان ویاړن، بسادمن، او هیلمن کړي دي. بل پلو، د پاڅون تر ټولو مهم شاخص او ممیزه دا ده چي قیام له اولي ورځي راهیسي د طالب، کرزی، او ناټو ضد دریځ غوره کړی دی، او د پاڅون محرک او اغاز د ظلم او استبداد په مقابل کي مبارزه کول ښیي. ددي قیام په باره کي علاقه هله زیاته سوه چي د الجزیرې تیلویزیون له سیمي څخه یو جالب او مستند رپوټ خپور کړ، او د پاڅون مخکښه څېرې او ارمانونه یې دنیا ته وښودل.

د عبدالرحیمزي د کلي ۵۳ کلن اوسېدونکی او د حساب استاد د نیوزویک خبریال ته د خپلي ناڅاپي ازادی او امنیت د احساس په باب وایي: « موږ له کرزي، طالبانو، او امریکایانو څخه کرکه لرو. طالبان زموږ رزق او روزي په زور اخلي؛ حامد کرزی غلا او دوکه راسره کوي؛ او امریکایان مو د شپې په چاپو کي توقیف او وژني. پدې تېرو لسو کلونو کي، دا لومړی ځل دی چي زه د طالبانو له زور زیاتي څخه، د حامد کرزي له فساد او بېکفایتی څخه، او د امریکانو د شپې له حملو او له ځوروو سپو څخه ځان مصون او ازاد احساسوم.»

د غزني د ملي قیام کیسه هله شروع سوه چي د غزني ولایت چارواکو غزنیوالو ته اعلان وکړ چي لدې را وروسته باید ګرده موټرسیکلان په ټرافیکو کي راجستر او ثبت وي. څرنګه چي د طالبانو ټرانسپورټي وسیله عموما موټرسیکل دی، نو بنا هغوی په اندړو او نورو سیمو کي پر ښوزلو مګر غیرتي او ازاده خلګو باندي مکتبونه، دوکانونه، سړکان، کلینیکونه، او بازارونه بند کړل. د ملي پاڅون یو ګډونوال الجزیرې ته وویل: طالبان زموږ نوی او ځوان نسل او اقتصاد را تباه کوي.

د ټاند د رپوټ په اساس د غزني ولایت په مختلفو سیمو په تېره بیا اندړ، ګیرو، او قره باغ کي طالبان مکتبونو ته وایي چي انګلیسي، فزیک، ریاضي، کیمیا، الجبر، او بیالوژي یا هیڅ تدریس نه کړي او یا په اونی کي فقط یو ساعت ورکړي، او د دغو مضامینو وخت دیني مسایلو ته وقف کړي. همدا وجه ده چي په کانکور کي د دغو سیمو تقریبا هیڅ شاګرد پوهنتون ته ندی بریالی سوی. غزنیوال وایي چي طالبان خپل مقررات یوازي پر ښتنو باندي تحمیلوي. په هغو سیمو کي چي هزاره مېشت دي نه یوازی له ښوونځیو سره څوک غرض نه لري بلکي هر کال نوي مکتبونه جوړېږي او د زده کوونکو شمېر زیاتېږي.

له بي بي سي سره په مرکه کي، د ملي پاڅون یوه مشر لطف الله کامران وویل: د منطقي خلګ، مشران، مخور، مکتبیان او محصلین د ستونزي د سولیز حل په غرض د طالبانو له مسولینو سره په تماس کي سول، خو د طالبانو مشرانو پر خلګو امر وکی چي یا به پرته له کوم قید او شرط څخه د طالبانو ظلم او ظلمت ته تسلیمېږي، یا به د کابل له شډل حکومت سره یو کېږي، او یا به جنګ ته ځان تیتګوي.

کله چي ولسي خلګ د طالبانو له ناروا فیصلي سره مخامخېږي، د کلي او کور زاړه او ځوانان سره جرګه کېږي. پسله څه بحث او سوال او جواب څخه، د اندړو خلګ د یو عمومي او سراسري پاڅون تصمیم نیسي. او طالبان له خپلو سیمو څخه پسي اخلي. د جرګي برخوالو موافقه وکړه چي طالبان ظلم کوي او د افغان ولس پر خدایي او مدني حقوقو باندي تېری کوي. طالبان منطق نه بلکي وچ زور چلوي. د افغان ولس ازادی او ډلییزي ارادی ته احترام نلري، او له خدایي او بشري حدودو څخه د مستکبران غوندي سرغړونه کوي. طالبان له علم، نور، او مکتب سره مخالفت کوي، د افغان بچو راتلونکي تباه کوي، او د معارف او پوهي سره حساسیت ښیي، حال دا چي د افغان ولس د نجات یوازنی مطمینه هیله پوهنه او تحصیل دی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د جرګې بله نهايي فصيله دا هم وه چي د ظلمت له استازو سره ډغري وهل ضروري دي، ځکه د خپل حق او ازادئ لپاره مبارزه کول ددې سيمي په خټه کي اخښل سوي دي. د اندړو وياړلي سيمه په تاريخي لحاظ هم د ملي مبارزينو پوخ سنګر وو. د افغان انګليس په دوهم جنګ کي، ملا مشک عالم په همدې سيمه کي د ازادئ، استقلال، او جهاد تر بېرغ لاندي غزاګاني کړي وي.

بلخوا، ددې دوو مياشتو په ترڅ کي طالبان پدې باره کي تر حد زيات چوپ او خپ ول. مګر د شنبې په ورځ الامارې ويب سايټ د طالبانو اعلاميه چي سراسر تورونونه، ناروا، او د شکونو خورول ول، خپره کړه. هلته، ذبيح الله مجاهد د اندړو ملي پاڅون نظريه او غړي امريکايي جاسوسان، اربکيان، او د دولت خير خواره بللي دي. مګر اعلاميه د خپلو بې بنيادو الزامونو د ثبوت لپاره هيڅ دليل او سند نه دی ذکر کړي، او په پاي کي په غيري شعوري توګه د پرابلم پر موجويت باندي اعتراف کوي او وايي چي د مشرتابه په امر به ډير ژر هلته يو هيت واستول سي، څو ددغو ادعاګانو په ارتباط تحقيق وکړي او د حلولو لپاره يې ګامونه واخلي.

د ملي پاڅون سمدستي اغېزې

په اندړو کي، د ځايي خلګو قيام او مبارزه هغه ادعا غلطه ثابته کړه چي وايي پښتانه تعليم او عصري علوم نه غواړي. پښتانه د ماډرن جهان سره سازګار ندي، او پښتانه د علم، ساينس، او عصريت ضد عواطف او تمايلات لري. بلکي د اندړو پاڅون وښوده چي افغانان د خپلو اولادونو لپاره تعليم او مکتب غواړي، او پښتني سيمو کي خلک د عصري ښووني او روزني په اهميت پوهېږي.

دوهمه موضوع چي د غزني پاڅون بيا ثابته کړه او هغه دا چي که خلګ لاسونه سره ورکړي هر څه امکان لري. مانا د محلي خلګو طاقت او قدرت يووالى دی، خو همدا جوړونکي قوه بايد ليډرشيپ او مديريت ولري. که چيري ځايي خلګ او مدني ټولني خپل برخليک پخپله وټاکي، د هغه ځای ثبات او امنيت څوک نه سي خربولای.

او بالاخره بله ضروري مسله دا ده چي د اندړو د ملي قيام سره بايد افغانان او نړيوال کمک وکړي. مادي او معنوي مرسته ورته برابري کړي، څو له يوې خوا د هغوی استقلال خوندي وساتل سي، او له بلې خوا نوري سيمي هم د اندړو د پاڅون په شان خپل حق او ازادي تامين کړي. د قيام په باره کي زيات تبليغات وسي. په ملي او بين المللي سويه معرفي سي. په تېرو څو کلونو کي، د افغانستان په نورو سيمو کي هم ورته شان پېښي سوي دي، خو د مرستو او تبليغاتو د نه راجلبولو په خاطر خپل سوي دي. افغانان او جهانيان بايد اجازه ورنه کړي چي دا ځل بيا د خلګو حقه قيام ناکام سي. طالبان هڅه کوي چي دا حرکت په نطفه کي شنډ کړي، خکه طالبانو پخپلي اعلاميي کي د تهديد او انکار ژبه کارولي ده.

والسلام


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ